# که یو موټی راولاړ نشو؛
# نوری فرخندی به هم د بنسټپالې په اور کی وسوځیږي!

یوواری بیا د ارګ په یو کیلومترۍ کی د ښځې پر وړاندې ځناورتوب، ویښ وجدانونه ورګړول. ۲۸ کلنه فرخنده تورواندو ځناورو د قرانسوځولو په درواغجن تور د پولیسو په شتون کی ووژله، او ټوټې ټوټې وجود ته یی اور ورپوری کړ. که څه هم د ملانیازي، سیمین حسن‌زاده، حشمت استانکزي، زلمی زابلي په څیر څو تنو ناانسانانو د فرخندې ټوټه کیدل په ښکاره تایید کړل، ولی په واقعیت که د جنایتکارانو او ناپوهانو څخه ډک دولت چارواکو له دغې پیښې ګټه پورته کړه. ولی له نیکه‌مرغه زمونږ خلکو چی د څو لسیزو راهیسې یی د دین ټیکه‌دارانو دوکې او تیرایستلو سره بلد دي، په چټکۍ او یو آواز دغه هیټلری کړنه وغندله، او د ع او غ رژیم ځارګرو ملایانو او نورو کوځه‌ډبو خولې داسی وتړلې چی په هماغه لومړیو شیبو کی پر خپل ځای کښیناستل او چوپتیا یی غوره کړه.

د فرخندو وژل کیدل ناڅاپي پیښه نه وه، بلکه دا د خاینانو پاللو او وژونکو نازولو فرهنګ پایله وه چی د څو لسیزو او په خاصه توګه له تیرو ۱۴ کلونو راهیسی زمونږ په هیواد کی واکمن دی. فرخنده په یوه مخکی پلان شوی طرحه کی ووژل شوه ترڅو د جهاد او اسلام څو تنه ټیکه‌داران چی په دې ورځو کی پرله‌پسې رسواېږې وهی، خپل ځناورتوب ولس ته وښایي او هغوی د خپلې له وینو ډکې او بویناکی واکمنۍ منلو ته اړ کړي.

اوسنی خوسا دولت چی ددغې پیښې او امنیتي ځواکونو د ناکاراتوب له امله یی ځان بی‌پته ولید، د عامه افکارو تر تاثیر لاندی راغی او څو تنه کوځه‌ډبي چی په پیښه کی یی لاس درلود ونیول ترڅو د نیوکو څپې تر واک لاندی راولي. ولی زمونږ خلک چی په کراتو ددغو زړه‌بوږونکو پیښو شاهدان وو، ښه پوهیږي چی د فرخندې او فرخندو د کرکېوړ وژونکي د خپلو واکمنو جنایتکاره مشرانو ملاتړ پرته نشي کولای په دغه ډیر ویروونکو کړنو لاس پوری کړي. شرف بغلاني کرغیړن چی په ویاړ سره یی د فرخندې په وژلو کی لاس لرلو څخه ویلی، د جمعیت له لچکانو څخه دی چی په امنیتی ادارو کی یی دنده لرله. که چیری مونږ یو ملی او عدالت ته اړین دولت لرلی له ټولو مخکې باید هغه نامحترم او خاین چارواکي پوښتلي وای چی په زرهاوو د شرف په څیر لمپن او غله د پولیسو او اربکیانو او ناملی امنیت لیکو ته وردننه کوي تر هغې د ولس کړولو کی پرخ لاس ولري. که چیری د پغمان پیښې دوتنه اصلي عاملان د سیاف او نورو تر سیوري لاندی آزاد نه وای پریښودل شوی، که چیری په زرګونه تنه جنایتکارانو ته سزا ورکړل شوی وای هیڅکله به فرخنده بله قربانی نه وای.

د اولې درجې جنایتکارنو ښښنه او ولس چوپتیا ددی لامل کرځیدلې چی ع او غ د یوی ناولې جوړې په څیر له یو لښکر بی‌پروا او بی‌وجدانه چارواکو سره په داسی حال کی خپلو امریکایی بادارنو میلمستیا ته ځي چی له یوې لخوا د ولس وینه د فرخندې په وژل کیدو په جوش راغلې او له بل پلوه زمونږ ۳۱ تنه هزاره هیوادوال د داعشیانو په ولکه کی دي او کورنۍ یی په کړاونو کی ژوند تیروي.

دردلیدلو هیوادوالو!

تر هغه وخت پوری چی جنایتکاره هیوادپلورونکي په واک کی وي او د ولس په برخلیک د بهرنیو بادارانو په زور ملنډې وهي، زمونږ د خویندو او میندو او لوڼو او زامنو سپیڅلتوب او وجود به ددوی د ښکاري سپیانو له داړلو خوندی نه وی. امریکا او د هغې پلویانو پرون خپل لاسپوڅي د تنظیمیانو او طالبانو په نوم پر ولس راخوشی کړل، اوس یی جدی هڅې پیل کړي ترڅو سرېوژونکي قصابان د داعش نامه تر لاندی منځ ته راوړي تر هغې چی زمونږ خلک د ناپوهۍ په زنځیرونو کی راښکیل کړي. هغوي هڅه کوی چی زمونږ ځوان نسل ناپوهۍ او روږدیتوب او بی‌روزګارۍ کی ډوب کړي چی چوپړان یی وکولای شی له هغوی نه عسکر ځان ته غوره کړي.

نو راځۍ چی په یو آواز سره نندارہ او چوپتیا د خپلواکۍ، آزادۍ، دموکراسۍ او ټولنیز عدالت په چیغه سره ماته کړو. که نن د کابل په زړه کی یوه ښځه د خلکو سترګو په وړاندې د ناپوهۍ په اور کی وسوځیده، سبا زما او ستا د خور او مور وار دی. که یو موټی را ولاړ نشو، نورې فرخندې به پرله‌پسې د بنسټپالو او د هغوی بهرنیو بادارانو د ظلم په اور وسوځیږي.

د **«افغانستان د همبستګۍ ګوند»** له خپلو خلکو سره په یو غږ دا ناوړه کړنه په کلکو ټکو غندي، له کړیدلو او هیوادپاله خلکو څخه غواړي چی خپله کرکه په واک بدله کړي او په عمل کی د ښکاره وژونکو پر وړاندی راولاړ شي. دا وخت رارسیدلی چی یو موټی شو او پرېنږدو چی د فرخندې پاکه وینه د واکمنو چوپړانو د خاینانه سلامشورو تر پښنو لاندی شی او سبا نورې خویندې د ځناورو لیوانو خوراک شي.

## د افغانستان د همبستګۍ ګوند

د ۱۳۹۴ کال د ورې ۳مه
کابل

+93 700 23 15 90 | info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | facebook.com/hambastagi